مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د جولای نهمه | دریم کال| ۴۰۱مه گڼه

2 017550 139621

## څېره

۴ مخ

## ابو علي سينا



د شرق دغه ستر فيلسوف، شاعر، منجم، طبيب او سياستوال ابو علي سينا د ۵۷ کلونو په عمر په داسې حال کې مړ، چې نړۍ ته يې د طب، فلسفې او نجوم په برخه کې ډېرې داسې رسالې په ميراث پرې اېښې، چې لا هم نړيوال د لومړي لاس ماخذ په توگه ترې گټه اخلي.

## په هلمند کې د ۲۷ میلیونو افغانیو په لگښت استنادي دېوالونه جوړېږي



په هلمند ولايت کې د ۲۷ ميليونو افغانيو په لگښت د استنادي دېوالونو د جوړېدو چارې پيل شوې.

د دغه ولايت د والي محمد ياسين خان په خبره، د سېلابونو د مخنيوي لپاره يې په بېلابېلو سيمو کې ۱۲ پروژې پيل کړې چې شپږ زره کورنۍ به په مستقيم او سل زره کورنۍ به په غير مستقيم ډول له سېلابونو وژغوري.

نوموړي ويلي، پر دغو پروژو به ۲۷ ميليونه افغانۍ لگښت وشي او د جوړېدو چارې به يې په شپږو مياشتو کې بشپړې شي.

دغه راز په دې غونډه کې د هلمند د فرعي سينديزې حوزې رييس انجنير محمد انور ذهين وويل چې د دې پروژو له مخې به ۱۰۹۴۰ متره استنادي دېوالونه جوړ شي.

نوموړي زياته کړې: «دغه دېوالونه هم خلک له سېلابونو خوندي کوي او هم د اوبو په مهارولو کې مرسته کوي».

# د دوحې بین‌الافغاني غونډه؛

## د بین‌الافغاني مذاکراتو لپاره مهم گام دی چې ادامه به پیدا کوي



۳

### د حکومت او طالبانو د نه خبرو لاملونه او حللاره

۲ مخ

### ایا جنرال باجوه د پاکستان نوی مشرف دی؟

۲ مخ

### له بُنه تر دوحې؛ تویېرونه او هیلې!

۳ مخ

## په کونړ کې د داعش او طالبانو ترمنځ د نښتو له کبله زرگونه کورنۍ بې ځایه شوې دي

په ختيځو ولايتونو کې د داعش جنگياليو د فعاليتونو په تړاو تر شکايتونو وروسته، په کونړ کې د داعش او طالبانو ترمنځ د وروستيو نښتو له امله زرگونه کورنۍ د خپلو سيمو پرېښودو ته اړ شوې دي.

په ملي شورا کې د کونړ او ننگرهار ولايتونو استازي وايي، د کونړ په چپې درې ولسوالۍ کې د داعش او طالبانو ترمنځ په جگړو کې نږدې درې زره کورنۍ بې ځايه شوې او امن سيمو ته يې کډه کړې ده.

دوی وايي، په دې وروستيو کې داعش له ننگرهار څخه کونړ او نورستان ولايتونو ته مخه کړې او دوی له حکومت څخه غواړي چې د دغې ډلې پر وړاندې جدي اقدامات وکړي.

په ولسي جرگې د کونړ د خلکو استازی جاويد ساپی وايي: «په کونړ کې د داعش او طالبانو د وروستيو جگړو له له کبله له درې نيم زرو زياتې کورنۍ بېځايه شوې دي، که حکومت مداخله ونه کړي، وضعيت به لا کړکېچن شي».

د ولسي جرگې غړي دغه راز ټينگار کوي چې د ننگرهار په دور بابا، اچين، ده بالا او پچيراگام ولسواليو کې هم داعش او طالب جنگيالي حضور لري . دوی وايي، که حکومت يې مخه ونه نيسي، دغه ډلې به يوځل بيا ستر گواښ وگرځي. په کونړ او ننگرهار کې د داعش او طالبانو ترمنځ د جگړو له امله، د ولسي خلکو د زيانمنېدو په تړاو څرگندونې داسې مهال دي، چې د ملي شورا د غړو په خبره، په دغو ولايتونو کې داعش يوځل بيا په يوه ستر خطر د بدلېدو په حال کې دی.

## د سولې په روانه پروسه کې حکومت او طالبان باید دواړه گټونکي وي



۵ مخ

## ٦٣ درصد وکلا از جمع ١٧ کمیسیون به چهار کمیسیون ولسی جرگه نامزد شده اند



برخی اعضای ولسی جرگه مدعی اند که ٦٣ درصد وکلا، از جمع ١٧ کمیسیون به چهار کمیسیون ولسی جرگه، بیشتر به هدف دسترسی به امکانات مادی و معنوی، خود را نامزد کرده اند.

این ٦٣ درصد وکلا در نشست دیروز ولسی جرگه، برای عضویت در کمیسیون‌های مالی و بودجه، امنیت داخلی، سمع شکایات، مواصلات و مخابرات نامزد شدند.

همچنان ٢٣ درصد دیگر، برای عضویت در کمیسیون‌های امور بین المللی، دینی و فرهنگی، اقتصاد ملی، و عدلی و قضایی نامزد شده اند.


همچنان چهارده درصد دیگر، برای عضویت در کمیسیون‌های عدلی و قضایی، امور دفاعی، منابع طبیعی و محیط زیست، امور زنان و حقوق بشر، صحت و تربیت بدنی، تفتیش مرکزی، امتیازات و مصئونیت وکلا، مبارزه با مواد مخدر، امور تقنینی و کوچی‌ها نامزد شده اند.

این درحالی است که میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت که به اساس اصول وظایف داخلی این جرگه، ١٧ کمیسیون دایمی این جرگه باید از ٩ تا ٢٥ عضو داشته باشند.

قرار است امروز در نخست برای عضویت اعضای جرگه در چهار کمیسیون (مالی و بودجه، امنیت داخلی، مواصلات و مخابرات و سمع شکایات) در تالار عمومی این جرگه رای گیری شود.

این درحالی است که اگر برای هر کدام این کمیسیون‌ها ٢٥ عضو در نظر گرفته شود، ٦٤ نامزد اضافه می‌مانند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning

+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریــځ

### د حکومت او طالبانو د نه خبرو لاملونه او حللاره

طالبـان لا هـم ټینـګار کـوي چـې لـه حکومت سره خـبرې نـه کـوي، خـو خلیلـزاد وایـي چـې حکومـت یـو واقعیـت دی او دوی هڅـه کـوي، څـو طالبـان قانـع کـړي چـې لـه حکومـت سره خـبرې وکـړي. تـر دې وړانـدې خلیلـزاد ویلي وو چـې لـه طالبانـو سره یـې د ځواکونو پـر وتلو، د چـا پـر ضـد د افغـان خـاورې پـر نـه استعمال، اوربنـد او بیـن الافغـاني خـبرو بحثونـه کـړي چـې پرمختګونـه هـم پکـې شـوي دي. لـه بین الافغـاني خـبرو څخـه د امریـکا موخـه د افغـان حکومـت او طالبانـو ترمنځ خـبرې دي. طالبانو د خلیلـزاد دغـو خـبرو تـه پـه غبرګـون کـې ویلي چـې پـر اوربنـد او بین الافغـاني مذاکراتو یې له خلیلـزاد سره بحـث نـه دی کـړی.

اوس اسـاسي پوښـتنه دا ده چـې د دې ربـړې اصـلي لامـل څـه دی او څنګـه بـه حـل کېږي؟ طالبـان د دوو دلایلـو پـر اسـاس لـه حکومـت سره خـبرې نـه کـوي، چـې یـو دلیـل پـه ښـکاره وایـي او یـو یـې نـه وایـي. طالبـان وایـي چـې حکومـت بـې واکـه دی او دوی لـه بـې واکـه او لاسـپوڅي حکومـت سره خـبرې نـه کـوي. هغه څـه چـې طالبان یـې نه وایـي، خو لـه حکومت سره د خـبرو نـه کولـو اصلـي لامـل دی، هغـه دا دی چـې طالبـان فکـر کـوي لـه حکومـت سره پـه خـبرو د خپلـي مبـارزې مشروعیـت تـه زیـان رسـوي. طالبـان حکومت نه منـي او ځان حکومـت ګڼـي، خـو کـه فکـر کـوي چې کـه له حکومـت سره خـبرې وکـړي، د دې مانـا دا ده چـې دوی حکومـت د حکومـت پـه حیـث پـه رسـمیت پېژندلـی دی. پـه دې سره دوی پـه طبیعـي ډول د حکومت پر ضد جګـړه کړې ده او دوی د باغیانـو تعریـف پیـدا کـوي. طالبـان دا فکـر هـم کـوي چـې دوی لـه امریـکا سره جګـړه وکـړه او اصلـي اړخ امریـکا ده، خـو کـه له حکومـت سره خـبرې کـوي، نـو د دوی د جګـړې بـل اړخ هـم افغـاني کېـږي او پـه دې سره یـې جګـړه تقـدس لـه لاسـه ورکـوي.

امریکایـان هـم پـه دوو دلایلـو پـر دې ټینـګار کـوي چـې طالبـان دې لـه حکومـت سره خبرې وکـړي. لومـړی دا چـې امریکا نه غـواړي ځان د جګـړې د یـوه لـوري پـه توګـه را ښـکاره کـړي. کـه طالبـان لـه حکومـت سره خـبرې ونـه کړي او هـر څـه لـه امریکا سره حـل کـول غـواړي، د دې مانـا دا ده چـې د جګـړې اصلـي اړخ امریکا وه او د افغانسـتان د اشـغال پـه تـړاو د طالبانـو ادعـا سـمه وه او د دوی جګـړه مقدسـه وه. امریـکا غـواړي لـه همـدې حالتـه ځـان وباسـي. د افغانسـتان پـه جګـړه کـې ډېـر جنایتونـه هم شـوي دي، چـې امریکا یـې لـه اخلاقـي او مادي زیانونـو ځـان ایسـتل غـواړي او له همـدې امله غـواړي حکومـت د اصلـي لـوري پـه توګـه را ښکاره کـړي. امریـکا دا هـم غـواړي چـې لـه حکومـت سره پـه خـبرو د طالبانـو وزن را کـم کـړي او خپـل سیال یـې ونـه ګڼـي. لـه همدې املـه امریکا لـه حکومـت سره پر خـبرو ټینګار او طالبـان انـکار کـوي.

لا هـم د دې ربـړې د حـل څرګونـه نشـته، خـو د دې لپـاره چـې دا سـتونزه حـل شـي، یـوه لاره شـته او هغـه دا ده چـې د اوسـني حکومـت وخـت پـوره دی. د یـوې لویـې جرګـې لـه لارې دې یـو موقـت او بـې طرفـه حکومت جـوړ شـي، خـو طالبـان دې ومنـي چـې لـه دې حکومـت سره بـه خـبرې کـوي، جوړجـاړی بـه کـوي او سـتونزه بـه حلـوي. پـه دې سره بـه هـم دا ربـړه حـل شـي او هـم بـه پـه افغانسـتان کـې د بـې حکومتـۍ او بـې نظامـۍ مخـه نیـول شـوې وي.

# ایا جنرال باجوه د پاکستان نوی مشرف دی؟

لیکنه: عایشه صدیقه / ژباړن: مرسلین ارسلا

د پاکسـتان لـوی درسـتیز جنـرال قمـر باجـوه په دې وروسـتیو کـې لنـدن ته ولاړ چـې لـه خپـل بریټانـوي سـیال او د دغه هېـواد لـه ډېـرو نـورو لـوړ پـوړو امنیتـي چارواکـو سره د پاکسـتان او بریټانیـا ترمنـځ پـر سـتراتېژیکو همکاریـو خـبرې وکـړي. دا پـه تېـرو نهو میاشـتو کـې لندن تـه د هغـه دویـم سـفر و، چـې د پخوا پـه پرتلـه ورتـه ډېـر پـام شـوی و.

دغـه سـفر څلـور موخـې درلـودې، د داسـې یـوې لارې چـارې لټـول چـې لـه امریـکا سره د پاکسـتان اړیکـې ښـې شي، پـر پاکسـتان پـه راغلـو مـالي فشـارونو کـې نرمـي راشي، لـه بریټانیـا وغـواړي چـې د پاکسـتان او هنـد ترمنـځ د وروسـتۍ ترینګلتیـا پـه لـړ کولـو کـې د یـوه سـتراتېژیک منځګـړي رول ولوبـوي او نړیوالـه ټولنـه دې تـه وهڅـوي چـې جنـرال باجـوه کـولای شي چـې د پاکسـتان کړنـې بدلـې کـړي، له هند سره د سـولې خـبرې مطرح کـړي، طالبان له امریـکا سره خـبرو ته کېنـوي او پاکسـتان لـه جهـادي ډلـو څخـه پـاک کـړي.

د کارګېـل لـه پېښـې وروسـته مشرف دې نتیجـې تـه ورسـېد چـې لـه هنـد سره هر اړخیـزې خـبرې شـونې دي، خـو باجـوه دا کار کـولای شي؟ توپیر یـې دا دی چـې د مـشرف کاري مـوده ختمـه وه، خو باجـوه دا سـتونزه نـه لـري. لنـدن تـه د ده د سـفر پـر مهـال دا اوازې دي چـې د باجـوه کاري مـوده یـو کال نـوره هـم غځیـږي، خـو د وضعیـت د بدلـون لپـاره دا فرصـت هـم بـس نـه دی؛ ځکـه چې یو کال وروسـته بـه د پـوځ یـو بـل نـوی مشر لـه نویـو افـکارو سره راځـي.

د پاکسـتان لـوی درسـتیز د بریټانیـا د ملي امنیت له سـلاکار او د افغانسـتان او پاکسـتان لپـاره د لومـړۍ وزیـرې تریزامې لـه ځانګـړې اسـتازي سره د لیدلـو ترڅنـګ، د نړیوالـو سـتراتېژیکو څېړنـو پـه انسـټېټیوټ کـې سـلګونو کسـانو تـه وینـا وکـړه. ده د غونـډې برخوالـو تـه ژمنـه ورکـړه چـې د پاکسـتان پـوځ بـه جنګیـالي ختمـوي، دا داسـې یـوه ژمنـه وه چـې د عمـران خـان نـوي منتخـب حکومـت (چـې پـه منتصب مشـهور دی) لـه اسـاسي دنـدو څخه وه. جنـرال باجوه لـه هنـد سره د سـولې د خـبرو پـه اړه وویـل چـې هغـه پـه دې برخـه کـې بېـړه نـه کـوي او غـواړي چـې خپلـه د مودي حکومـت پـه خپـل وار دې پایلـې تـه ورسـېږي چـې د هنـد او پاکسـتان ترمنځ بایـد خـبرې وشي. د غونـډې تـر ټولـو پـه زړه پـورې برخـه دا وه چـې جنـرال باجوه غـواړي چـې د انګرېـزي چلونـو لـه مخې د پرویـز مـشرف پـه څېـر معاملـه وکـړي. دا تصـور لـه اروپـا څخـه د بریټانیـا د وتلو لـه تیـاره او تریـخ وضعیـت سره هممهالـه دی؛ ځکـه د بریټانیـا دولـت فکـر کـوي چـې د پاکسـتان او هنـد ترمنـځ د سـولې پـه منځګړیتـوب سره کـولای شي چې له سـولې او ارامـۍ ډکـه سـیمه پـه میراث پرېـږدي.

پـه لنـدن کـې نـوی راټوکېدونکـی تصور دا دی چـې کېـدای شي مـالي فشـارونو د پاکسـتان د پـوځ رهـبري دې پایلـې تـه رسـولې وي، چـې دوی خپلـې کړنـې بدلـې کـړي. لکـه پـه افغانسـتان کـې د سـولې پروسـې چټکتیا، اسـلام ابـاد ته د اشرف غنـي سـفر، د پاکسـتان حکومت لـه لـوري د کابـل او طالبانـو ترمنـځ پـه مـري کـې خـبرې او د روان میـلادي کال پـه جـولای کـې د عمـران خـان او ټرمـپ ترمنـځ لیدلـو تـه د شرایطـو برابـرول.

اوس پوښـتنه دا ده چـې ایـا باجـوه بـه رښـتیا هـم لـه هنـد سره خپـل نـوی لیـد عملـي کـړي؟ لنـدن ته تر سـفر مخکې د پاکسـتان د پـوځ مـشر د خپـل هېـواد پـه پوځـي پوهنتـون کـې د سـیمه ییـزو اړیکـو پـر ضرورت خـبرې وکـړې، خـو دلته دوې خـبرې دي، وخـت او اراده. پـه کړنـو کـې د تغیـر امـکان پـه دې پـورې تړلـی چـې بهـرني فشـارونه څومـره جـدي او سـخت دي. د هنـد پـر وړانـدې د بنسـټیز فکري بدلـون خـبره داسـې مهـال مطـرح کېږي چـې هند غـواړي د پاکسـتان پـر وړاندې ایډیالوژیـک تغیـر راولـي. پـه داسـې حالـت کـې پاکسـتان اړ دی چـې د خپلو راتلونکـو اهدافـو پـه اړه وضاحـت ورکړي. دا چـې پاکسـتان څنګـه غـواړي چـې ځـان پـه سـیمه پـورې ونښـلوي؟ پـه دې برخـه کـې د پاکسـتان د کورنیـو لوبغـاړو ترمنـځ هـم د تفاهـم اړتیـا شـته.

څـه چـې مـوږ تـه د مشرف تېـرې دورې را زده کـړل هغـه دا وو چـې نـوی ډیلـی نـه شي کـولای چـې پاکسـتاني جنرالانـو ته پـر وخـت لاسرسـی ومومـي. بلـه سـتونزه دا وه چـې پـه خپلـه د پاکسـتانیانو ترمنـځ هـم د دې سـتونزې د هـوارې پـه برخـه کـې د پایلـو پـه اړه هوکـړه نـه وه.

دا سـتونزه هغـه وخـت پـه ډاګه شـوه چې کلـه مـشرف واک پرېښـود او جنرالانو یې پـه اړه وویـل چـې دوی لـه مـشرف سره د کشـمیر د سـتونزې پـه اړه پـه یـوه نظر نه وو.

لـه پخـوا راهیسـې د پاکسـتان پـه پـوځ کـې لـه هنـد سره د سـولې د نظر مطرح کـول اسـانه کار نـه و او نـه هـم دی. یـو دا چـې هنـد اوس بـدل شـوی او لـه هند سره خـورا کمـې اړیکـې هم په پاکسـتان کـې اندېښـنې راپورتـه کـولای شي. بلـه دا چـې پـه پاکسـتان کـې د نـوي هنـد پـر ضـد د پرلـه پسـې تبلیغاتـو پـه نتیجه کـې هـر مخالـف نظـر تـه پـه دې سترګه کتـل کېـږي، چـې ګواکـې د پاکسـتان د ګټـو پـر ضـد د هنـد د اسـتخباراتي اداري (RAW) پـه اشـارو تـر سره کېـږي او لـه هنـد سره د اړیکـو د ښـه کولـو پـه تـړاو د یـوه پاکسـتاني جنـرال داسـې خـبره بشـپړه تېروتنـه بلل کېـږي. جنرال اشـفاق کیـاني چـې لـه هنـد سره د سـوداګرۍ پـه ملاتړ مشـهور و، پـه دې اړه تـرې څـه ښـه پاتـې نـه شـوه.

لـه واک څخـه د نـواز شریف د لـرې کولو یـو دلیـل د پـوځ دا اندېښـنه وه چـې لومـړی وزیر بـه له ګاونډیـو هېوادونو سره د اړیکـو او سـوداګرۍ د ښـه کېـدو هڅـه وکـړي. اروپایـان پـه دې منطـق نـه شي پـوه، چـې د پاکسـتان د پوځ په کـړو- وړو کـې تغییـر پـه دې پـورې تړلـی چـې دوی لـه خپلـو داخلـي شریکانـو سره څنګـه چـال چلنـد کـوي.

بریټانیـا پـر دې پوهېږي چې د پاکسـتان او هنـد ترمنـځ د اړیکـو ښـه کېـدل د کشـمیر پـه مسـئله کـې څـه ناڅـه پرمختـګ راوسـتلی شي. انګېرنـه دا ده چـې پـه کشـمیر کـې اوسـني تحـرکات قومـي او قبیلـوي بڼـه لـري او کېـدای شي هنـدوان دې تـه وهڅېـږي چـې د پاکسـتان له لـوري د جهادي پالیسـۍ د ختمولـو پـه بـدل کـې د کشـمیر پـه اړه د مـشرف فورمولـې تـه غـاړه کېـږدي. باور دا دی چـې جنرال باجوه بـه د هغو جهادي ډلـو پر ضـد ګام پورته کړي چـې د دریيم اړخ لـه لـوري ورتـه وښـودل شي. د مثال پـه ډول، سي. آی. اې (CIA) او یـا هـم ایـم آی سېکس (MI٦) د مسـعود اظهـر پـه مـشرۍ د جیـش محمـد ډلـې د ځینو کسـانو ټېـې کېـدل او وژل کېـدل تاییـد کـړي دي. اسـاسي تصـور دا دی چـې د لوېدیځـو اسـتخباراتي ادارو ظرفیـت د هغـې ورځـې پـه پرتلـه ډېر ښـه شـوی چې دوی نـه شـوای کولـی پـه ایبټ ابـاد کې د القاعـدې مشر اسـامه بن لادن ومومي. د دریيـم اړخ لـه خـوا د ورتـه تاییـدي وړانـدې کـول پېچلـی نظر دی، پـه تېره بیـا پـه داسـې مهـال چـې پـه پاکسـتان کـې دننـه ټـول غږونه چوپ کړای شـوي. دا واقعیـت چـې جنـرال باجـوه د پښـتون ژغورنـې غورځنـګ خـلاف زغـم لـه لاسـه ورکـړی، یـوازې پـه دې خاطـر نـه دی چې هغـه لکـه څرنګـه چـې پـه خپـل غبرګون کـې ادعـا کـوي چـې پر دې انـد دی چې دا غورځنـګ هـم د پاکسـتان د طالبانـو د تحریـک تـداوم دی یـا دا چـې دا د هغـوی خـلاف د لوېدیځ یـا افغانسـتان دسیسـه ده، بلکـې دا پـر دې خاطـر ده چـې دا ډلـه د طالبانو خـلاف د دوی لـه نـه پرمختګـه پرده پورتـه کـوي. بریټانویان ښـایي د پاکسـتانیانو او مدنـي ټولنـو غږونـه ډېـر جدي ونـه ګڼـي، خـو هندیان بـه یـې جـدي نـه ګڼـل د خپـل ځان پـه خطـر کـې اچولـو سره برابـر کـړي.

جنـرال باجـوه پـر دې پوهېـږي چـې د هنـد پـه تـړاو د کـړو وړو بدلـول لږ تـر لږه د یـوې لسـیزې پروژه نـه ده، بلکـې د هغه ښـه دا ده چـې د کارترپـور سـوداګریز دهلېـز پـه سـتراتېژیک نـه، بلکـې پـه تکتیکـي ډول بیـا پرانیسـتل شي.

د مـشرف خـلاف، د باجـوه هڅـه دا نـه ده چـې د ځـان لپـاره میـراث وګټـي، بلکـې هغـه غـواړي چـې د پاکسـتان د پـوځ لپـاره دا فرصـت مسـاعد کـړي چـې د امریـکا پـه مقابـل کـې پـر خپلـو پښـو ودرېـږي. باجـوه پـر دې پوهېـږي چـې د پاکسـتان او امریـکا ترمنـځ د دوو اړخیـزو اړیکـو پراختیـا پـه دې پـورې تړلـې ده چـې واشـنګټن اسـلام ابـاد تـه د ډیلي له عینکـو ونـه ګـوري.

داسـې ښـکاري چـې باجـوه دا هـم غـواړي چـې لـه امریـکا سره پـه اوږدمهاله لوبـه کـې پاتـې شي، هغـه ځکـه چـې ده پـه لنـدن کـې ټینـګار وکړ چې پاکسـتان د چیـن پـه پرتلـه لوېدیځ تـه د اړیکو ډېره لېوالتیـا لـري. ده دا خـبره د ۲۰۱۸ ز کال د اکتوبـر میاشـتې پـه سفر کـې هم کـړې وه. دا چـې د پاکسـتان اسـتخباراتي رسـنیو تـه دا اجـازه ورکـوي چـې پـه چین کـې د پاکسـتانیو مېرمنـو د ناوړه وضعیت پـه تـړاو راپورونـه خپـاره کـړي او یـا دا چـې اسـلام ابـاد لـه چیـن سره د میسـو شـوی قـرارداد بېرتـه نـه را ګرځـوي، پـه دوو اړخیـزو اړیکـو کـې د سـتراتېژیک تغیـر پـه مانـا نـه دی، بلکـې دا امریکا تـه یـو زېګنـال دی. لـه واشـنګټن سره د اړیکـو ښـه کـول د پاکسـتان هیلـه ده او غـواړي چـې نـړۍ تـه قناعـت ورکـړي چې راولپنـډۍ چمتـو ده چـې تغیر راولي، خو هنـد هـم بایـد پـه خپـل چلنـد کـې بدلون راولـي. د چیـن او پاکسـتان برخلیـک بیـا پـرې یـوې لارې – یـوه کمربنـد پـروژې (BRI) پـورې تړلـی دی.

جنـرال باجـوه دې تـه خوشـاله دی چې د نظـر غوښـتنې لوبـه وکـړي، خـو پوښـتنه دا ده چـې کـه باجـوه وکـړای شي چـې خپـل ملګـري لـه ځـان سره مل کـړي، ایا ډیلـی بـه خپلـه لوبـه پرمـخ بوځـي او یا کـه د ټرمـپ لوبـه؟ پـه دې صورت کـې باجوه کـولای شي چـې د یوه بـل کال لپاره هم پـه واک کـې پاتـې شي.

## پر ټاکنو څارونکي بنسټونه: د ټاکنو خپلواک کمېسیون په خپلو کارونو کې پاتې راغلی دی

پـه داسـې حال کـې چـې ولسمشریزو ټاکنو تـه نږدې دری میاشـتې پاتـې دي، خو پر ټاکنو څارونکي بنسـټونه وایـي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون تر اوسه نه د نوم ثبتوونکو نوملړ جوړ کړی او نه یې پاکې رایې له ناپاکو بېلې کړې دي.

د دوی پـه خبره چې د یاد کمېسیون د رایې ورکوونکو د نوم ثبتولو لپاره تر اوسـه کوم مېکانېزم هم نه دی جوړ کړی.

د شفافو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا ټیفا اجرایوي رییس محمد نعیم ایوب زاده ویلي: «کمېسیون تر اوسه نه دی توانېدلی چې داسـې مېکانېزمونه ځانګړې کړي چې د رایو ورکوونکو نوملړ ځانګړی شي او ځانګړو محلونو ته ولېږل شي. دغه کار تر ٦٠ سلنو زیات شفافیت تضمینوي، موږ شاهد نه یو چې تر اوسه کمېسیون دا کار کړی وي».



د ټاکنـو د خپلـواک کمېسـیون د معلوماتو لـه مخې، د ولسي جرګې په ټاکنو کې ۸.۸ میلیونو کسـانو نومونه ثبت کړي وو، خو بلخوا سیاسـي ګوندونو ویلي چې د دغې شمېرې نیمایي کسان خیالي وو.

په ورته وخت کې د ملي یووالي حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله ویلي، له درغلیو ډکې ټاکنې به په هېواد کې د بې ثباتۍ لامل شي او د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د شفافیت، د درغلیو د مخنیوي او څارنې لپاره جدي هڅې وکړي. هغه ویلي: «یو ځل بیا د شفافو او عادلانه انتخاباتو په تر سره کولو ټینګار کوم. له درغلیو ډک انتخابات په هېواد کې د بې ثباتۍ لامل کېږي. دا زموږ د ټولو مسوولیت دی. د څارونکو مسوولیت دی چې څار پرې ولري».

بلخوا د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د غزني ولایت په ګډون، تر اوسه څلور لکو او پنځوس زرو کسانو نومونه ثبت کړي او د پاکو او ناپاکو رایو د بېلولو لړۍ یې هم پیل کړې ده.

د دغه کمېسیون د ویاند د دفتر سرپرست ذبیح‌الله سادات ویلي: «د تقویتي نوم ثبتولو د رایو د سکن کولو لړۍ پیل شوې. د نفوسو د احوال ثبتولو سره هم کار شوی چې وتوانېږو، که په جعلي تذکرو نوم ثبتونه شوي وي او یا خیالي نوم ثبتونه شوې وي، جلا کړو».

دا په داسې حال کې ده چې د څارونکو بنسټونو په خبره، دغه کمېسیون تر اوسه هم د نوم ثبتوونکو ارزونه نه ده کړې او دغه نومونه یې د کمېسیون ډیټابېس ته هم نه دي رسولي، په داسې حال کې چې د دوی په خبره، دا پروسه ډېر وخت هم نیسي.



# له بُنه تر دوحې؛ توپيرونه او هيلې!

ليکنه: قاضي نجيب الله جامع

د امريکا او طالبانو ترمنځ اووم پړاو مذاکراتو د دواړو لورو ترمنځ د هيلو يو نوی باب پرانيستی، کوم چې د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد هم دغه مذاکرات ډېر ګټور او د برياوو سره مل بللي وو.

بل لور ته د دغو مذاکراتو سره هممهاله د افعان سولې او افغان ـ امريکا جګړې د کورني طرف په برخه کې د طالبانو، سياسي ـ مدني جوړښتونو او د حکومت لوړپوړو چارواکو چې يوازې د سولې عالي شوراه له مشره بغير ځلورو تنو مرستيالانو يې هم د اشخاصو او افرادو په توګه برخه درلوده.

تمه کېږي چې د قطر او المان په کوربه‌توب دغه ناسته به د بين‌الافغاني مذاکراتو په برخه کې يو منظم ميکانېزم جوړ او بين‌الافغاني خبرې اترې به د يوه نتيجه لرونکي بريالي بهير په توګه مخته يوسي.

له ما څخه د دغه ډول ناستو د يو هڅوونکي او شناند په توګه ځينو منتقدو هېوادوالو په ځانګړي ډول د افغان حکومت محوره سولې مدافعينو او د امريکايانو د ژر وتلو مخالفو افغانانو راڅخه پوښتي وو، چې د دوحې او بُن د کنفرانس توپير په څه کې دی، کوم چې موږ بايد ورته هيله من اوسو.

ما دوی ته د زماني واټن، تاريخي پېښو او د هغوی د پايلو پر بنسټ د (توپيرونو او هيلو) پر اساس ځواب ويلی چې پام مو ورته راګرځوم:

**لومړی:** د بُن کنفرانس د افغانانو د فراق يو داسې بنسټ کېښود چې نږدې بشپړه پېړۍ به يې يو ملت بېه پرې کوي، په داسې حال کې چې رواني بين‌الافغاني ټولې ناستې د ګډ، واحد او د ټولو کور لوی افغانستان، داسې افغانستان چې يوازې د افغانانو کور وي، د رامنځته کولو لپاره د يوه لوی ولس هيلو، غوښتنو او لومړيتوبونو ته د رسېدو په لار کې د جهاد اکبر په شان مبارکې هڅې دي.

**دويم:** د بُن کنفرانس د اسلاميت او افغانيت په معيارونو د يوه طرحه شوي وحشت، افغان وژنو، ځارګريزو لوبو د دوام لپاره د افغانيت د سپېڅلي نرخ او دود پر بنسټ د يوې باطلې توجيه شرمناک کردار و، خو رواني او دې ته ورته مخکينۍ بين‌الافغاني ناستې د پرديو د لاسونو لنډولو، د پردو د ناروا شتون د پای ته رسولو او د اسلامي او افغاني ارزښتونو د بياځلولو او عزت په لار کې د افغانانو په نوښت، تدبير او رهبرۍ د دغه هرڅه عزت، شان او دبدبې ته راګرځولو په لار کې د يوه ملت هغسې متفق يون دی، چې زموږ د عزمتونو او غيرتونو په تاريخ کې به ان شاءالله يو نوی باب پرانيزي.

**دريیم:** د بُن کنفرانس د افغان ضد ستراتېژيو د دوام په موخه د يوې تپلواکې، پرديپالې، جاسوسې او ککړې جګړې لپاره د يوه ډيزاين شوي وحشت ستراتېژي وه، کوم چې خپله د امريکايانو په خبره اخير دومره اوږده شوه چې د دوی د ټولو جګړو، استعمارونو او وحشتونو تاريخ يې مات او وشرماوه.

**څلورم:** بله جالبه يې دا ده، هغو کورنيو اردليانو او د هغوی توندلارو بادارانو چې يو وخت يې خپل سيال (طالب) کنفرانس ته د بللو او له هغه سره د ملک د مسايلو پر سر د ډيالوک پر ځای هغه ته دوه په مرګ ولاړو لارو څخه چې يوه يې وژل کېدل او بله يې زندان منل وو، هېڅ بديل نه ورکاوه، نن نه يوازې چې په طالب پسې ناستو ته لېوال او له مسکوه تر دوحې ستړي او ورپسې په منډه دي، بلکې سوال او زارۍ ورته کړي چې راشه پر ډيالوګ مسايل حل کړو، زما له خوا تاته د ترهګر امريکايي اصطلاح کارول يوه اشتباه وه او نور موږ بدل شوي يو، بناءً د ۲۰۰۱ ز کال ټول متنازع او طالب دښمنه طرفونه هغوی چې لکه نظار شورا او شمال محوره ټلواله د امريکا او ناټو په ټانګونو سپاره راغلل يا هغوی چې پر دې مزل کې د عيش عشرت، ګټو، موقف او امتيازاتو په غرض ورسره مله شول، د بهرنيانو د وتلو او د امريکايي پر ځای له طالب سره د ګډ افغانستان جوړولو تکل ښيي.

**پنځم:** د دې ترڅنګ د بُن ګډونوال طالب اوس نه يوازې نظامي قدرت ګڼي، بلکې هغه سياسي ډيپلوماسي چې طالبانو د باور جوړونې په لار کې د سيمې او نړۍ په کچه رامنځته کړه، خورا حيرانوونکې پايلې يې درلودې. د چين، روسيې او ايران پيکه باورونه يې ورغول، له منځنۍ اسيا سره يې اړيکې پر ګټو بدلې کړې، د پاکستان او خليج هېوادونو اړوند يې هغه طلسم مات کړ، چې د طالب ضد ټلوالې د طالبانو د سياسي خپلواکۍ، دريځونو، پرېکړو، واحد وجود او ستراتېژيک تعريف اړوند لرل.

**شپږم:** بل پلو د بُن کنفرانس تر ډېره يا که د هېڅ ادعا هم وکړي، نو بې انصافي به نه وي چې اجنډا او پرېکړې يې د امريکا په اختيار کې وې، حتا د نوموړي کنفرانس د ګډونوالو د خاطرو له لوستلو وروسته چې له دې لړ څخه سفير زلمي خليلزاد او د افغانستان لپاره د امريکا لومړني سفير او د نوموړي کنفرانس امريکايي لوی اسانچاري سفير جېمز ډابنېز د کتابونو پر حواله دا چې هرڅه د دوی تر ځار او فلټر لاندې مخته تلل، خو د بين‌الافغاني ناستو روان بهير په لويه کچه افغاني، د افغانانو په اختيار کې او د افغان ولس د هيلو او سياسي اجماع د مشروعيت پر بنسټ مخته ځي.

**اووم:** تر ټولو ښکاره او له شف شف شفتالو څخه وتلی کردار د بُن او دوحې په غونډو کې زموږ د هيلو پر بنسټ دا دی، چې بُن د اشغال د دوام، د افغان وژنو د مشروعيت او د يو ملت د تاريخ او ټولو شتو مسخه او پرې قمار وهل وو، خو د بين‌الافغاني ټولو ناستو چې دوحه يې د وصل کړۍ وه، کردار او پيغام سوله، امن، يو بل منل، زغمل، ګډ افغانستان، خپلواکۍ او د تپلواکۍ او اشغال خلاف ده.

بناءً هيله لرو چې ټول افغانان او په ځانګړې توګه متنازع بين‌الافغاني سياسي خواوې د ولس دا لومړيتوب درک کړي. خپل عزت، حيثيت، بقا او ګټې د خپل ولس او تاريخ په ژغورلو او د الله متعال (جل جلا له) په خوښۍ کې ولټوي.

پردو څوک نه دي ساتلي، پردۍ لښکرې دلته تل په ماتې محکومې وې، هغوی چې د ختيځ او لوېديځ په قاتلو عسکرو واک، ځواک او ځان ساته، نن يې ګور او کور دواړه ورک دي.

# د دوحې بين‌الافغاني غونډه؛

## د بين‌الافغاني مذاکراتو لپاره مهم ګام دی چې ادامه به پيدا کوي



د دوحې د بين‌الافغاني ناستې په دويمه ورځ د جګړې پر کموالي خبرې شوې دي. په قطر کې د بين‌الافغاني ناستې ګډونوال وايي چې له طالب استازو سره يې د جګړې پر کموالي خبرې کړې دي، خو طالبانو هم ورته خپل مشخص وړانديزونه کړي دي. په ورته مهال طالب استازو په زندانونو کې د خپلو بنديانو د ځورولو پر مخنيوي او ځينو نورو مسايلو ټينګار کړی دی.

په دوحه کې د طالب استازو او افغان هيئت ترمنځ د بين‌الافغاني ناستې په دويمه ورځ دواړو خواوو د روانې جګړې پای ته رسېدو، سولې، راتلونکي نظام او ځينو نورو مسايلو په اړه خپل نظرونه شريک کړل. طالبان ټينګار کوي چې له متحده ايالاتو سره د مذاکراتو تر پای ته رسېدو او د بهرنيو ځواکونو د وتلو تر اعلان وروسته به د سولې هڅې لا ګړندۍ شي. سهيل شاهين وايي: ((موږ د سولې ملاتړ کوو، تر هغه وروسته چې امريکايي ځواکونه ووځي، نو بين‌الافغاني خبرې به پيل شي. اوس هم ډېر پرمختګ شوی دی، خو په دې اړه لا ډېر معلومات نه شم ورکولی)).

د دې تر څنګ، د دواړو ترمنځ ډېر داسې مشترک مسايل دي چې د سولې خبرې اسانه کولی شي. دوحې ته د تللي افغان پلاوي ځينې غړي وايي، طالبان په افغانستان کې د اسلامي نظام غوښتونکي دي او د افغانستان اوسنی نظام هم اسلامي نظام دی. د دوحې ناستې ګډونوال وايي، له طالبانو سره يې د جګړې پای ته رسولو او سولې ټينګښت په اړه خبرې کړې دي. افغان پلاوی دغه راز وايي چې د تېرې ورځې په غونډه کې تر ډېره د تاوتريخوالي پر کمولو ټينګار شوی دی او په دې برخه کې دواړه لوري تفاهم کوي.

بلخوا د افغانستان لپاره د المان ځانګړی استازی مارک پوتزل بيا وايي چې دا د ورته خبرو لومړی پړاو و. د ده په خبره، دغه خبرې به ادامه پيدا کوي او په راتلونکې کې به په نورو هېوادونو کې تر سره کېږي. مارک پوتزل وايي، د افغان سولې په برخه کې د قطر له همکارۍ منته کوي او هيله من دی چې دغه ډول غونډې ادامه پيدا کړي. نوموړی وايي: ((دا يو ښه پرمختګ دی، دا د غونډې لومړی دور و، هيله کېږي چې دغه ډول غونډې لا ډېرې شي او په افغانستان کې د سولې او پرمختګ سبب شي. ښايي نورې غونډې په ازبکستان يا اروپا کې تر سره شي)).

په ورته مهال د حکومت اجرايه رييس وايي، که څه هم دوحې ته د تللي هيئت په ترکيب کې ملاحظات شته دي، خو د بين‌الافغاني ډيالوګ د پيل لپاره اغېزمن ګام دی، چې د سولې له بهير سره به مرسته وکړي. نوموړی وايي: ((افغانان له جګړې ستړي شوي دي. د دوحې غونډه جوړه شوې ده. افغانان په خپلو کې سره ناست دي. سره له دې چې په ترکيب کې ملاحظات شته دي، خو دغه لړۍ به د سولې په خبرو کې لا ډېره همکاري وکړي)).

په ورته وخت کې ځينې سرچينې بيا دا هم وايي چې د دغو مذاکراتو بل دور ښايي چې په ناروې کې تر سره شي. خو د المان ځانګړي استازي هم د مذاکراتو د تر سره کېدو خبر ورکړی دی او ځای يې اروپا، ازبکستان او يا بل هېواد بللی دی.

# اروپايي ټولنه: منځنۍ اسيا دې د بشري حقونو په برخه کې پراخ اصلاحات راولي

اروپايي ټولنې په ټينګار سره ويلي، چې د منځنۍ اسيا هېوادونه دې د بشري حقونو، ازاديو او ډيموکراټيکو او سياسي اصلاحاتو ته پام وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې د منځنۍ اسيا پر ځينو هېوادونو له دې کبله توندې نيوکې کېږي، چې اوسېدونکي يې له پوره بشري حقونو برخمن نه دي او وخت ناوخت له زور زياتي سره مخ کېږي.

د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشرې فېدرېکا موګيرېني په قرغزستان کې له رسنيو سره د خپرو پر مهال ټينګار کړی، چې د منځنۍ اسيا هېوادونه بايد د بشري حقونو په برخه کې ښه‌والی راولي.

هغې ويلي، د بشري حقونو او ازاديو تامين او اصلاحات به په منځنۍ اسيا کې د بهرنيو پانګونو د جلبېدو چانس زيات کړي.

موګرېني ټينګار کړی چې اروپايي ټولنه تل په دغو مواردو کې د اصلاحاتو غوښتنې مطرح کړې دي. هغې ويلي: «هغوی ښايي ټول هغه شيان چې موږ يې مطرح کوو خوښ نه کړي، په خاصه توګه د بشري حقونو موضوع او د قانون حاکميت. ځينې وخت ممکن دغسې هېوادونو ته چې د انتقال په دوره کې دي، دا مسايل سخت تمام شي، خو بيا هم پوهېږي او زه فکر کوم چې هغوی دا حقيقت هم ستايي چې موږ شفاف، ازاد او د باور وړ يو او همکاري کوو».

موګيرېني دا هم ويلي چې په سيمه کې د اصلاحاتو عملي کېدل يوه اوږده او کله ناکله دردوونکې پروسه ده.

هغې ويلي، منځنۍ اسيا بايد د نورو قدرتونو اروپا، متحده ايالتونو، روسيې او چين همکارۍ ته ازاده وي.

د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د اروپايي ټولنې د بهرني سياست مشره داسې مهال سفر کوي، چې هلته د دې سيمې په هر يوه هېواد کې ځان ځان ته لانجې روانې دي.

په ترکمنستان کې سياسي بنديان، په قزاقستان کې د لاريون کوونکو ځپل او د قرغزستان سياسي جنګونه هغه مسايل دي، چې تر ډېره د موګيرېني د سفر پر مهال مطرح شوي دي.

بلخوا په ترکمنستان کې چې په نړۍ کې تر ټولو ډېر کنټرول شوی هېواد بلل کېږي، د سياسي بنديانو او د بشري حقونو د ناسم وضعيت په اړه ترې په دې وروستيو کې راپورونه ډېر شوي دي.

د بشري حقونو فعالانو له موګيرېني غوښتي چې د منځنۍ اسيا هېوادونو چارواکي د بشري حقونو د وضعيت ښه‌والي ته وهڅوي.

د بشري حقونو د څار سازمان يوې مرستيالې ريچيل دنبر پر نوموړې غږ کړی چې ترکمن چارواکو ته دې ووايي، چې اروپايي ټولنه به د رښتينو بشري حقونو د تامين په خاطر هېڅ هڅه ونه سپموي.




## د کتــاب خبــري

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

- لیکوال: ابوبکر صدیق
- ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه
### د فاجعې دوام




د سواد د نړیوالې ورځې د نمانځنې په موخه کابل کې د حامد کرزي وینا ته یو شمېر د کابینې غړي، د ملي شورا استازي، بهرني مېلمانه، ښوونکي او زده کوونکي راټول شوي وو. له هغه تمه کېده چې د سولې عالي شورا مشرتابه به اعلان کړي. دا اویا کسیزه نوې اداره د حامد کرزي د ټیم د ولسمشـریزو ټاکنو له ژمنو یوه وه چې له طالبانو سره به د سولې د خبرو اترو پروسه مخکې وړي.

کرزي د دې پر ځای چې له ۲۰۰۱ز کال د طالبانو له واکمنۍ په را وروسته موده یې، د هېواد پر پرمختګونو خبرې کړې وای، هغه د هېواد په وروسته پاتې والي وینا وکړه، زیاته یې کړه، دا هغه هېواد و چې یو پر درېیمه برخه وګړي یې نالوستي وو. هغه د یوه روسي ډاکټر کیسه وکړه چې د نولسمې پېړۍ په منځ کې کابل ته د امیر شېرعلي خان د واکمنۍ پر مهال د هغه د زوی عبدالله جان د درملنې په موخه راغلی و، نه و توانېدلی چې د شاه ناورغ زوی وژغوري.

کرزي همداراز زیاته کړه، نن ورځ هم افغانستان د پخوا په څېر پر بهرنیانو متکي دی. په وینا یې که په کور د ننه د روغتیایي چارو ښې زمینې برابرې وای، نن به افغانانو د روغتیایي خدمتونو پر بدل کې هره میاشت ۱۰۰ میلیونه امریکایي ډالر په بهرنیو هېوادونو کې نه لګولای. کرزي د جرمنیانو له لوري په جوړ شوي ښوونځي، امانیه لېسه کې د ۲۰۱۰ز کال په سپټمبر میاشت کې وینا وکړه، ویې ویل: ((زموږ تعلیم او زموږ د خلکو پرمختګ د ۱۳۰کلونو پخوا په څېر دی.)) هغه په دري ژبه خبرې کولې، له بهرنیانو یې هېڅ وېره نه لرله، په زغرده یې وویل چې د افغانستان په بدبختیو کې د بهرنیانو لاس دی، زیاته یې کړه: ((روسان په ۱۹۸۰ز لسیزه کې راغلل، افغانانو ته یې وویل چې تاسو به کمونېستان کړو، خو دوی ناکام شول او موږ یې تباه کړو. په ۱۹۹۰ز لسیزه کې زموږ ګاونډیان پاکستان او ایران راغلل، ویې ویل ستاسې چارې به درته تنظیم کړو، هغوی هم ونه توانېدل.))

هغه د خپلو خبرو په ادامه کې وویل: ((اوس ناټو راغلې په دې پلمه چې له ترهګرۍ سره مبارزه کوي. دا جګړه له لسو کلونو روانه ده، خو موږ یې پایله نه وینو.)) حامد کرزي په خپله وینا کې طالبانو ته هم اشاره وکړه: ((ګورئ! هره مرمۍ چې اوروئ، د دې خاورې پر زړه لګېږي، ګټه یې یوازې دښمن ته رسېږي.)) هغه طالبانو ته د هېوادوالو خطاب وکړ، له هغوی یې وغوښتل چې په ګاونډي پاکستان کې د خپلو بادارانو د خوشالولو لپاره خپل وطن مه ورانوئ، زیاته یې کړه: ((د نورو د ګټو لپاره خپل خلک مه وژنئ، د خپلو ښوونځیو دروازې د افغان ماشومانو پر مخ د نورو د خوشالولو لپاره مه تړئ.))

کرزي په احساساتي غږ وویل چې که جګړه دوام پیدا کړي افغانان به خپل هویت له لاسه ورکړي. د هغه له سترګو اوښکې راغلې ویې ویل، غواړي، خلک یې زده کړې وکړي او پر ځان بسیا شي. نوموړي زیاته کړه چې درې کلن زوی میرویس به یې په کوم بهرني هېواد کې نه بلکې په افغانستان کې را لویېږي او ژوند به کوي.

نوموړي همداراز څرګنده کړه: ((په زړه کې مې درد دی، اې خلکو! هیله ده ما درک کړئ. زه وېره لرم چې زما خپل زوی میرویس به بهر ته پر تګ مجبورېږي.)) نوموړی یوه شېبه خاموش شو، خلکو د لاسونو په پړکولو د هغه د خبرو تود هرکلی وکړ. کرزي خبرې پسې وغزولې: ((نه غواړم زوی مې بهرنۍ تابعیت واخلي. غواړم زوی مې په کابل کې زده کړې وکړي او د افغان ښوونکي له لوري و روزل شي. هغه به همدلته لویېږي، ډاکټر به ترې جوړ شي، د خپلې خاورې خدمت به کوي او همدلته به خاورو ته سپارل کېږي.))

حامد کرزي یاده وینا د وېډوارډ د نوي اثر تر چاپ لږ وخت وروسته کوله، لیکوال د امریکایي څارګرو پر حواله لیکي چې ګني حامد کرزی په ډېپرېشن (ژور خپګان) اخته و. کېدای شي د افغان ولسمشـر له خپل هېواد سره د خواخوږۍ احساسات بهرنیانو په ناسمه ادعا اړولي وي، خو په افغانستان کې د هغه خبرو ارزښت لاره. افغانان له خپل کړکېچن تاریخ خبر دي او پوهېږي چې دوی همدې تاوتریخوالي تر دې بدې ورځې ته را رسولي دي.

پر همدې چې افغان ولسمشـر حامد کرزي وینا کوله په ۱۹۳۳ز کال یوه زده کوونکي د هغه وخت پاچا محمد نادرخان وژلی و.

د دې زده کوونکي د کورنۍ نارینه غړي د نادرخان له لوري کال وړاندې په دې تور چې ګني د امیر امان الله خان پلوی یې کاوه وژل شوي وو، امان الله خان څو کاله وړاندې جلا وطنه شوی و. د حامد کرزي له وینا څوارلس کاله وړاندې له ولسمشـرۍ ماڼۍ بهر، د ملګرو ملتونو د دفتر مخې ته، د افغانستان وروستی سوسیالېست ولسمشـر ډاکټر نجیب ځړول شوی و. هغه د ۱۹۹۶ز کال د سپټمبر پر ۲۷مه ووژل شو، دا د کابل له نیولو سره سم د طالبانو لومړی وېروونکی کار و. **دوام لري...**

# ابو علي سینا

شفیق امیرزی



ابـو علـي سـینا یـا ابـن سـینا د نـړۍ پـه کچـه یـو سـتر عـالم، لیکـوال، فیلسـوف، ساینسـپوه، شـاعر او طبیـب تېـر شـوی دی. دغـه نامتـو پـوه د افغانسـتان د بلـخ دی او د نـړۍ پـه بېلـو هېوادونـو کـې یـې قـدر او درنـاوی کېـږي. هغـه د شرق تـر ټولـو سـتر فیلسـوف او عـالم تېـر شـوی دی او څـوک چـې د شرق د فلسـفې او ساینس پـه اړه پلټنـې کـوي، نـو لومـړی ګام تـر ابـو علـي سـینا اوچتـوي او لـه ده د هـر څـه څېړنـه او پلټنـه پیلـوي. پلار یـې د بلخ او د سـامانیانو د حکومـت کارکوونکـی و.

د خپـل اولاد پـه روزنـه کـې یـې لـه پـوره احتیـاط او هڅـې کار اخیسـت. پـلار یـې د اسـماعلیانو د تعلیماتـو تـر اغیـز لانـدې و، خـو ابـن سـینا تـه بیـا د دې ډلـې عقایـد دومـره مهـم نـه برېښـېدل او لـه دغـه ډلـې سره یـې د یـو ځـای کېـدو یـا دوی تـه یـې تمایـل نـه درلـود. ابـن سـینا د علـم او هنـر سـخت مینـه وال و، پـه څوارلـس کلنـۍ کې لـه خپـل اسـتاد عبداللـه ناتلـي پـه ډېـرو مسـایلو کـې مخکـې شـو. ویـل کېـږي چـې خپـل اسـتاد تـه بـه یـې د منطق علـم ډېرې غوټـې سپړلـې او لارښـوونه بـه یـې ورتـه کوله. پـه شـپاړس کلنـۍ کـې پـه طـب او طبابـت کـې دومـره ورسـېد چـې لویـو او مهمـو ډاکټرانـو یـې تـر لاس لانـدې کار کولـو. کله چې ابن سـینا د سـاماني کورنـۍ د یوه امیر نـوح بـن منصـور درملنـه وکـړه، نو دغـه امیر اجـازه ورکـړه چـې لـه کتابتون یې ګټـه پورته کـړي او خپـل علـم ډېـر کـړي.

پـه اتلـس کلنـۍ کـې د هغـه وخـت پـه اصطـلاح جامـع العلـوم شـو. ډېـرې علـوم یـې زده کـړل او د هغـه وخـت پـر مروجو ټولو مسـایلو بانـدې یـې سر خـلاص کـړ. تـر دې وروسـته یـې چې پـه علومو کـې هر پرمختګ کاوه، خپـل اجتهـاد یـې و. لیکـل یـې کـول، لوسـتل یـې کـول، تحقیـق یـې کاوه او پـر اجتهـاد بـه بوخـت و. نومـوړي د خپلـې علمـي بډاینـې پـه لړ کې پـه یوویشـت کلنۍ کـې لومړنـی کتـاب ولیـک. هغـه پـه فلسـفه کـې پراخـه مطالعـه لرله، نو لومړنی فلسـفي اثـر یـې هـم العروضیـه نومیـده. دا کتاب یې د ابوالخیـر عـروضي پـه غوښـتنه لیکلـی و.

ابـو علـي بـن عبداللـه بـن سـینا پـه ۳۷۰ هجـري قمـري کال کـې پـه بخـارا کـې زېږېدلـی دی. پـلار یـې د بلـخ و. د نـوح بـن منصـور سـاماني د حکومـت پـر مهـال یـې پـلار بخـارا تـه لاړ. پـلار یـې د خپلـې اسـتوګنې ځـای تـه نږدې لـه سـتارې نومې نجلـۍ سره واده وکـړ او د همـدې واده ثمر ابـو علـي سـینا دی. پنځـه کاله وروسـته یې بـل اولاد هم وشـو، چـې محمود یـې نوماوه. ابـن سـینا پـه لومـړي سر کـې د قـران او ادبیاتـو زده کـړې تـه مخـه کـړه. لـس کلـن و چـې قـران کریـم او د هغـه وخـت ټـول بحثونـه یـې زده کـړي وو. هغـه پخپـل هوښ او ذکاوت نـور خلـک حیـران کـړي وو. پـه دې وخـت کـې یـې پـلار د یـوه مـصري پـه بلنـه د اسـماعلیانو مذهبـي اصـول ومنـل. د ابـن سـینا ورور پـر همـدې ګروهـه و. پـلار یـې لـه ابـن سـینا هـم وغوښـتل چـې د ده لار ونیسـي، خـو و یـې نـه منلـه. ده د پـلار خـبرې منلـې، خـو د دوی اصـول ورتـه مهـم نـه برېښـېدل.

پـلار یـې ابـن سـینا یـوه هنـدي تـه چـې پر حسـاب کتـاب پـوه و، ولېـږه او هغـه یـې دا فـن زده کـړ. پـه دې وخت کـې یو سـتر عالم بخـارا ته راغـې. دا عالم حسـین بـن ابراهیم الطـبري ناتلـي نومېږي چـې په ابـو عبدالله ناتلـي مشـهور و. ده بـه ویـل چـې پـه بخارا کـې د فلسـفې تـر ټولو مهم پـوه کـس دی او پـه دغـه ښـار کـې د فلسـفې بنسـټ اېږدي. د ابـن سـینا پـلار هغـه تـه پخپـل کـور کـې ځـای ورکـړ.

ابـن سـینا لـه دې عـالم د زده کـړې او لوسـتلو چـاره پیـل کـړه. ده غوښـتل لـه دې عـالم څخـه فلسـفه زده کـړي، خـو خـدای ورکـړې ذهـن او ذکاوت یـې اسـتاد تـه د حیرانتیـا سـبب شـو. بخـارا تـه د ناتلـي تـر راتـګ مخکـې یـې لـه اسـماعیل زاهـد فقـه زده کولـه. پـه دې برخـه کـې یـې سـخت زیـار ایسـت او د فقهیانـو پـه هنرونـو یـې سر خـلاص و. دلتـه یـې لـه ناتلـي د ارسـطو منطـق زده کـړه پیـل کـړه.

د اقلیـدس د هندسـې د اصولـو کتـاب او همـدا راز د بطلیمـوس المجسـطی کتـاب یـې لـه خپـل اسـتاده زده کـړل او پـه دې اړه یـې لا ډېـره مطالعـه پیـل کـړه. یـو څـه موده وروسـته یـې اسـتاد لـه بخـارا بېرتـه لاړ. پـه دې مـوده کـې ابن سـینا له خپـل ځان سره مطالعـې او زده کـړې تـه ادامه ورکـړه. ده په الهایاتـو او طبیعـت کـې مطالعـه پیـل کـړه. وروسـته یـې لـه طـب او طبابـت سره مینـه پیـدا شـوه او پـه دې برخـه کـې یـې د اثـارو لوسـتل پیـل کـړل.

لـه دې سره یـې هممهالـه لـه نـورو کسـانو سره پـه فقـه او نـورو مطالعاتـو کـې مناظرې هـم کولـې. تـر دې وروسـته یـې یو نیـم کال نـور هـم زده کـړو تـه ادامـه ورکـړه. بیـا یـې د منطـق او فلسـفې د کابونـو مطالعـه لـه سره پیـل کـړه. پـه دې مـوده کـې داسـې هـم پېښـه شـوې چـې تـر سـهاره نـه دی ویـده شـوی او ټولـه ورځ یـې بـې مطالعـې او زده کـړې بـل کار نـه دی کـړی.

هغـه بـه تـر ډېـره پـر خپلـه پوهـه مغـرور نه و. پـه ډېـرې مسـایلو کـې بـه چـې لـه سـتونزې سره مـخ شـو، لمونـځ اودس بـه یـې کـول او لـه خـدای بـه یې د سـتونزې د حل غوښـتنه کولـه. ابـن سـینا همداسـې مـخ تـه روان و. ډېـر څـه یـې زده کـړل او د ده پـه خـبره ټولـه هڅـه یـې دا وه چـې ځـان ورسـوي او علـم حاصـل کـړي.

پـه اتلـس کلنـۍ کـې ابن سـینا، پـه منطق، ریاضیاتـو، طبعـي علومو او ورته مسـایلو کې مـخ تـه تللـی و. پـه الهیاتو کې یـې مطالعې تـه ادامـه ورکولـه. پـه دې وخـت کـې د بلخ حاکـم نـوح بـن منصـور سـاماني و. هغـه نـاروغ شـو او طبیبـان یـې پـه درملنـه کـې پاتـې راغلـل. پـه دې وخـت کـې د ابن سـینا نوم مشـهور شـوی و. ډاکټرانو امیـر ته د ابن سـینا نـوم واخیسـت. ده هم ابن سـینا خپل حضـور تـه را وغوښـت.

دی ۲۲ کلـن و چـې پلار یـې ومړ. پلار یې د سـاماني امیر کارونـه کـول، نـو ځکـه ابن سـینا هـم اړ شـو، چـې دغه ماموریت مخ ته یوسـي. لـه دې سره هممهالـه اړ شـو چـې پـر سیاسـت هـم ځـان پـوه کـړي. د امیرانـو ترمنـځ کشمکشـونو کـې هـم ښـکېل شـو او لـه همـدې املـه یـې ډېـر سـفرونه، سـتونزې او ان زنـدان ولیـد. ډېر کتابونه او رسـالې یې ولیکلـې. دا هـر کتـاب د هغـه وخـت اړتیاوو او حالاتـو تـه پـه کتـو لیکل شـوی دی.

دی چـې د سـاماني پادشـا پـه دربـار کـې و، نـو کتابونـو او معلوماتـو ته یې پوره لاسرسـی درلـود. پـه همـدې لـړ کـې یـې د فلسـفې یـو مهـم کتـاب هـم ولیـک؛ خـو کلـه بـه یې چـې سـفرونه کـول، نـو واړه یادښـتونه به یې لیـکل او رسـالې به یې تکمیلولـې. په زندان کـې یـې شـاعري کـړې ده او د خـدای ج د قدرتونـو او حکمتونـو پـه اړه بـه یـې فکـر او ذکـر کاوه.

د ابـن سـینا د تالیفاتـو لـه ډلـې شـفا پـه فلسـفه او قانـون پـه طـب کـې نړیـوال شـهرت ومونـد. شـفا کتاب پـه اتلسـو ټوکونو کـې لیـکل شـوی دی. دا کتـاب د علومـو، فلسـفې، منطق، ریاضي، طبعیاتو او الهیاتو پـه اړه لیـکل شـوی دی. د شـفا منطـق نـن هـم د اسـلامي منطـق پـه بـاوري او مهمـو کتابونـو کـې راځـي. دقانـون کتـاب چـې لـه پېړیـو راهیسـې مهـم طبـي کتـاب و، پـر بېلو مسـایلو بحث کوي. پـه کتاب کـې درملو، د طـب عمومـي قوانینـو او نـورو مسـایلو پـه اړه خـبرې راغلـې دي.

هغـه د علومـو پـه نـورو برخو کې هـم فعالیت وکـړ. د اقلیـدس اثـار یـې ترجمـه کـړل. نجومـي علومـو کـې یـې تحقیقـات وکـړل. د حرکـت، قـوې، خـلا، نـور، حـرارت او نـورو مسـایلو پـه برخه کې یې هم پـراخ تحقیقات او مطالعـه وکـړه. د کانونـو، او معـدني موادو پـه اړه د ده لیکلـې رسـاله تـر ډېـرو کلونو په اروپـا کـې مهـم درسي مضمـون و.

هغـه هڅـه کولـه چـې پـه طـب کـې درملنـه د ریاضیاتـو تابـع کـړي. پـه دې توګـه چـې غوښـتل یـې ځینـې وسـایل رامنـځ تـه کړي او دا پروسـه اسـانه کـړي. هغه فلسـفه د یوه پـوه کـس لپـاره اړینـه بللـه او ویـل یـې چې فلسـفه د عـالم او پـوه د کمال پـه مانـا ده. هغـه د ارسـطو افـکار او نظریـات لوسـتل، خـو وروسـته متوجـه شـو چې بایـد د شرقي علـماوو فلسـفه ولـولي. پـه همـدې لـړ کـې یـې د شرق فلسـفې تـه مخـه کـړه او دلتـه یـې د پـام وړ کارونـه وکـړل. هغـه د شرقـي فلسـفې سـل کلـن مـزل مطالعـه کـړ.

د فـارابي او نـورو علـماوو پـه څېـر چې کارونه یـې نیمګـړي پاتـې وو، اثـار یـې ولوسـتل. په دې توګـه یـې یو منظم فلسـفي نظـام رامنځ تـه کـړ. سره لـه دې چـې تـر ده وړانـدې کسـانو پـه دې برخـه کـې کار کـړی و، خو د ابـن سـینا کار دا و، چـې سـتونزې رابرسـېره کـړي، هغـه حـل کـړي او پـه یـوه ډول نـه یو ډول یـې لـه منځـه یوسـي.

ابـن سـینا د سـیاسي کشمکشـونو او هغـه وخـت روانـو حالاتـو لـه املـه پـه یـوه ځـای پاتـې نه شـو. څو ښـارونو او هېوادونـو ته یې سـفرونه وکـړل. د عمـر پـه وروسـتیو کـې د اوسـني ایـران همـدان تـه ځـي. هلتـه هم له سـیاسي کشمکشـونو سره مخ وي. د امیرانو لـه غوښـتنو سره یـې زړه تنـګ وي. زنـداني کېـږي او پـه زنـدان کـې هـم ډېـر کتابونـه لیکـي. پـه همـدان کـې د طـب، ځینـو ناروغیـو او نـورو مسـایلو پـه اړه مهم کتابونه لیکـي.

ایـراني حکومـت پـه همـدان کـې د بلـخ د دغـه سـتر نامتـو عـالم مقبره ډېـره ښـکلې جـوړه کـړې ده. ایرانیـان وایـي، ابـن سـینا بلخـي ایـراني وګـړو تـه ویـاړ وربښـلی دی، ځکـه یـې دومـره درنـاوی کـوي. د هغـه لـه مقـبرې سره د ابـن سـینا د اثـارو یـو موزیـم، سـتر کتابتـون او لـوی پـارک دی چـې هـر کال یـې سـیلانیان لیـدو تـه ورځـي.

د شرق دغـه سـتر فیلسـوف، شـاعر، منجـم، طبیـب او سیاسـتوال د ۴۲۸ هجـري قمـي کال د روژې میاشـتې پـه لومـړۍ نېټـه د جمعـې پـه ورځ د وړپېښـې ناروغـۍ لـه املـه پـه ۵۷ کلنـۍ کـې لـه دې فـاني نـړۍ سـترګې پټـوي.

نـړۍ نـن هم د هغـه د خدمتونو پـوروړې ده او پـه هـر ځـای کـې د هغـه درنـاوی کېـږي. افغانـان هـم هغه خپـل اصیل بچـی بولي او پـه نامـه یـې پوهنتونونـه او علمـي مرکزونـه جـوړ کـړي دي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰،۳۰ |
| € | ۹۰،۳۰ |
| Rp. | ۵۰۶ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱،۵۰ |
| £ | ۹۹،۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# لړ؛ خو په دقت سره مطالعه وکړئ!

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ډېری وخت کله چې موږ کتابتون ته یا هم د خپلو کتابونو د الماری خوا ته ځو، د یو بدلون او نوي څه لېدو حس نه کوو؛ ځکه موږ له مخکینی مطالعې په ذهن کې څه نه لرو او بیا هماغه دي چې نوي کتابونه هم راته چندانې جالب نه وي. هر کتاب مو چې لوستی، محتوا او اصلي هدف مو د کتاب له بندولو سره جوخت له ذهنه وتلي دي. ځینې وخت د یوې داسې پېښې په مخ کېدو سره پرېشانه کېږو، چې ګواکې موږ کمزوری حافظه لرو. خو کله چې بیا د ځینو نورو ملګرو له ورته ګیلې خبرېږو، بیا یو څه ارامه کېږو چې نه ده یوازې زه خو له دې ستونزې سره نه یم مخ. که د کتاب محتوا ستاسې ذهن کې نه پاتې کېږي، نو بیا د مطالعې ارزښت په څه کې دی؟ په دې اړه لیکوال رولف دوبلي ښې سپارښتنې لري.
نوموړی وایي، موږ ډېر وخت کتاب په صحیح ډول نه لولو او یا مو هم د لوستلو پر مهال تمرکز راټول نه وي. موږ باید کتاب په متفاوته بڼه ولولو او د دې کار لپاره لاندې وړاندې شوې اصول عملي کړو.
ځینې داسې کتابونه شته چې موږ په باوري ډول نه شو ویلای چې دا دې اوسمهال لپاره ولولو او که د ټول عمر لپاره؟ د ټول عمر لپاره؟ دا خبره د ډېرو کسانو لپاره چندانې ارزښت نه لري، خو ستاسې لپاره چې همدا اوس د دې مقالې پر لوستو اخته یاستی، ډېره عجیبه او یو ډول احساس راپاروونکې ده. ځنګه یو نیمه متمدن کس کولای شي د ډېرو لږو کتابونو په لوستو سره خپل ژوند ډېر ښه مخکې یوسي؟
دوبلي وایي، زما په شخصي کتابخانه کې ۳۰۰۰ کتابونه شته، چې تقریباً له درېو یوه برخه مې یې لوستې ده، یوه له درېو یې نیمه لوستل شوي ده او یوه له درېو یې نالوستې پاتې ده. هر کال مې دغه کتابتون ته نوي کتابونه هم ور زیاتوم، هغوی کېټه ګورې کوم او د لوست پر مټ یې په ژوند کې د ځینو شرونو مخنیوی کوم. زما کتابخانه د اومبرتو اکو په څېر د یو کس د کتابخانې په پرتله چې ۳۰۰۰۰ کتابونه لري، بېخي وروکې او کم کتابونه درلودونکې ده. پر دې هرڅه سربېره، د ځینو محدودو کتابونو محتوا زما په ذهن کې پاتې ده، خو کله چې د هر کتاب کورپېچ وینم، د هغه محتوا او د یوې موضوع په اړه د لیکوال نظر مې ذهن کې راګرځي. ځینې وخت خو مې ان په کتاب کې د یوې راغلي ځنګلي انځور او دقیقاً د لیکوال جملې او الفاظ هم ذهن کې راشي.
په ندرت سره کولای شم یو کتاب په لنډ ډول خلاصه کړم. د ځینو کتابونو په اړه بیا نه شم ویلای چې تر اوسه مې هغه لوستي او که نه. دغه کتابونه باید را واخلم، وبې لولم او د کتاب لمن لیک کې لیکل شوي یادښتونه یې دقیق وګورم. په داسې وخت کې نه شم ویلای چې زما حافظه کمزوری ده او که دغه کتابونه رابانديې چندانې اغېز نه کوي. خو کله چې د ملګرو له ورته تجربو خبرېږم، لږ څه ارام کېږم. دا وضعیت نه یوازې د کتابونو؛ بلکې د مقالو، رپوټونو، څېړنو او ادبي متونو په اړه هم صدق کوي، چې ډېر وخت په مینه ولوستل شي، خو بیا وروسته په ډېرې سختۍ سره د هغه محتوا او جوړښت په یاد راوړل کېږي.
اوس پوښتنه دا ده چې که د کتابونو محتوا زموږ په یاد ډېره نه پاتې کېږي، نو بیا اساساً د مطالعې ارزښت په څه کې دی؟ او ولې کتابونه د لږ وخت لپاره پر موږ اغېز کولای شي؟
د دغو پوښتنو ځوابونه باید د کتاب په ناسم لوستلو کې ولټو. دا چې موږ له ورته ستونزې او پر خپلې حافظې له نیوکې سره مخ کېږو یا دا وایو چې دغه او هغه کتاب رابانديې چندانې اغېز ونه کړ، یوازینی علت یې دا دی چې موږ دقیقه او په پوره تمرکز سره مطالعه نه کوو. موږ په خپله ځان ته دا اجازه ورکوو چې د یو نابلده ښکاري په څېر په دښتو او بیابانونو کې په هغه ارزښتمن ښکار پسې یوه خوا بله خوا منډې رامنډې وکړو، چې اصلاً یې د پیدا کېدو امکان تر ډېره‌ درې سلنې زیات نه دی. په اصل کې موږ خپل هغه فرصت چې د نورو ډېرو لاسته راوړنو لپاره تر ګټه اخیستلای شو، هسې له لاسه ورکوو. نن ورځ زه ته تېرو کلونو سره په کاملاً متفاوته بڼه کتاب لولم، سره له دې چې د کتاب لوستو کچه مې د پخوا په شان ده؛ خو اوس چې لږ او په دقت سر مطالعه کوم او ان ډېری خو دویم ځلې هم لولم. اوس ښتیا ډېر دقیق لوستونکی شوی یم، په لسو دقیقو مطالعه کې یو کتاب د محتوا وزن راته مالومېږي، چې ایا دغه کتاب په لوستو ارزي او که نه. په ښتیا ولې باید هر کتاب دوباره ونه لوستل شي؟ د موسیقۍ په نړۍ کې موږ ځینې فایلونه چې په زړه او روان مو ښه ولګېږي یا لږ تر لږه زموږ د حالت انځور په کې ښکل شوی وي، د هغه دوباره اورېدو ته مجبورېږو. د کتاب د بیا مطالعې په اړه هم دا خبره صدق کوي. که مو کتاب د مخکې راتلونکې لارې په اړه تاسې ته وضاحت درکوي یا تاسې د خپلو تېروتنو بیا بیا نه تکرار ته متوجې کوي او داسې مسایل تاسې ته روښانه کوي، چې هغه ستاسې په ژوند کې حیاتي ارزښت ولري؛ دا کتاب په بیا بیا مطالعه ارزي او که یې دا ځانګړنې نه درلودې، بیا یې مه مطالعه کوئ. د کتاب دویم ځل لوستل د لومړي ځل په پرتله ډېر ارزښت لري. زه د شخصي تجربې په اساس تاسې ته ویلی شم، کله مې چې یو کتاب لومړی ځل لوستی، درې سلنه مې تر هدف اخیستی؛ خو کله مې چې دویم ځل لوستی، ۳۰ سلنه اصلي هدف ته نږدې شوی یم.
د کتاب ډېره مطالعه ضرور نه ده او نه هم دغه کار تاسې ته چندانې ګټه لري. لږ مطالعه وکړئ، خو دقیقه او ان دویم ځلې لوستل یې د لومړي ځل په پرتله تاسې ته ډېره ګټه کوي. د کتاب د لوستو پر مهال پوره تمرکز ولرئ، روحاً او جسماً د اړه د هغه لوستو ته جوړ شئ. دقت د هرڅه عمق او اصلي موخې ته د رسېدو یوازینۍ لار ده. که دقت ونه لرئ، هسې خپل وخت ضایع کوئ.

## پوهنې وزارت: د زده کوونکو د خوندیتوب لپاره پر یوه میکانېزم کار کوو

پوهنې وزارت وایي، په کابل او غزنی کې په وروستیو خونړیو بریدونو کې زده کوونکو ته د تلفاتو تر اوښتو وروسته، اوس د دوی د خوندیتوب په موخه پر یو میکانېزم کار کوي.
د دغه وزارت ویاندې نوریې نزهت ازادي راډیو ته ویلي، هېڅ بنسټ هم په دې برخه کې پر نه دی، خو د امنیت د خوندیتوب لپاره باید لا جدي کار وشي.
هغې ویلي: «زه فکر نه کوم چې په دې برخه کې کوم بنسټ پر وي، ځکه هره اداره چې په یو ځای کې جوړه شوې وي، که هغه ښوونځی وي یا کوم امنیتي بنسټ، نو د خلکو د ارتیا د رفع کولو له امله جوړېږي، خو موږ هڅه کوو چې په یوه داسې میکانېزم کار وکړو چې له دغه شان ستونزو خلاص شو.»
پوهنې وزارت دا خبرې وروسته له هغې کوي چې ورمه ورځ په غزني او تر هغې مخکې په کابل کې په امنیتي پېښو کې ډېرو ملکیانو ته مرګ ژوبله واوښته چې ډېری یې د ښوونځیو زده کوونکي وو.
د غزنی ولایت د ځایي چارواکو په خبره، د ورمې ورځې په پېښه کې نږدې ۲۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې ۵۰ سلنه یې د ښوونځیو زده کوونکي وو.



دغه‌شان تر دې وړاندې د کابل پل محمود خان سیمې ته څېرمه په موټربم چاودنه کې د (عزیر او ستاره) ښوونځیو ۵۱ زده کوونکي ټپیان او یو زده کوونکی هم ووژل شو چې لامل یې پوځي تاسیساتو ته د دغو ښوونځیو نږدېوالی بلل شوی دی.
په ورته وخت کې ملي دفاع وزارت ویلي، د افغانانو دښمنان هېڅ ډول اصول په پام کې نه ساتي او جګړه پر مخ بیایي چې ډېر کله ملکیانو ته پکې مرګ ژوبله اوړي.
د دغه وزارت مرستیال ویاند محمد زبیر عارف ویلي، دوی نه یوازې د ښوونځیو، بلکې د ټولو خلکو د امنیت د خوندیتوب لپاره ځانګړي پلانونه لري.

## خلیلزاد: د سولې په روانه پروسه کې حکومت او طالبان باید دواړه ګټونکي وي

د افغان سولې لپاره د متحده ایالتونو ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي، د سولې په روانه پروسه کې به هم افغان حکومت او هم طالبان ګټونکي وي.
نوموړي له ازادي راډیو سره په ځانګړې مرکه کې دغه راز ویلي چې د افغانستان د تېرو ۱۸ کلونو لاسته راوړنې باید خوندي شي او له پرمختګونو د یوه اساس په توګه کار واخیستل شي.
خلیلزاد د هغو اندېښنو په اړه چې له طالبانو سره یوې احتمالي هوکړې ته په رسېدو به د افغانستان سیاسي برخلیک ځنګه کېږي، ویلي چې متحده ایالتونه د دواړو لورو د بریا غوښتونکي دي.
هغه زیاته کړې: «موږ غواړو چې لاسته راغلې کامیابۍ او له اقتصادي او ارزښتي پلوه شوي پرمختګونه د یوه بنسټ په توګه وکارول شي. موږ پوهېږو په هغو ځایونو کې چې طالبان دي، ښه اقتصادي او ټولنیز شرایط نه لري او بیارغونې ته اړتیا لري. دا د حل یوه لار ده چې نه طالب او نه حکومت ناکامه شي. دواړه خواوې باید بریالي شي».
خلیلزاد ویلي چې طالبان د افغانستان یو واقعیت دی او ثبات ته د رسېدو په برخه کې یې له افغان حکومت سره پر خبرو نوموړي له طالبانو سره د خبرو د اووم پړاو هم ټینګار کړی دی.



که څه هم طالبانو تر اوسه له افغان حکومت سره مخامخ خبرې رد کړې، خو خلیلزاد بیا ټینګار کړی چې افغان حکومت د امریکا متحده ایالتونو او نړیوالې ټولنې له خوا په رسمیت پېژندل شوی او طالبان له خبرو پرته بله لار نه لري.
پر مهال د بحث وړ ځلورو واړو موضوعګانو د پرمختګ په اړه هم ویلي.
د نورو هېوادونو پر وړاندې د افغان خاورې نه استعمال، له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو وتل، د بین‌الافغاني خبرو پیل او دایمي اوربند هغه مسایل دي چې د امریکا او طالبانو له‌خوا پرې بحث شوی دی.
زلمی خلیلزاد داسې مهال دغه څرګندونې کوي چې د افغان حکومت، سیاستوالو، مدني ټولنې او ښځو یوه پلاوي په دوحه کې له طالبانو سره پر یو لړ مهمو مسایلو خبرې کړې دي.
طالبانو هم ویلي، کله چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسئله هواره شي، حاضر دي چې له افغاني لوري سره هم خبرې پیل کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
المبارک
توریستي شرکت
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۱۸مه | د ۲۰۱۹ د جولای نهمه | درېیم کال | ٤۰۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۵ | ۳۸ | ٤۳ | ٤۱ | ۳۵ | ۳٤ |
| ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۲۸ | ۲۲ | ۲٦ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰٤ | لمر ختل ۰٤:٤۷ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیگر ۰۳:٤۵ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵٤

## نړۍ




## پامپیو: که ایران خپل اټومي پروګرام پراخ کړي، له سختو بندیزونو سره به مخ شي



متحده ایالتونو ایران ته خبرداری ورکړی چې دغه هېواد به د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون له محدودیتونو هاخوا، د خپل اټومي پروګرام د پر مخ بیولو له کبله له سختو بندیزونو سره مخ شي.

دا تړون چې د تهران او نړۍ د ځواکمنو هېوادونو ترمنځ لاسلیک شوی و، د ولسمشر ټرمپ پر مشرۍ امریکا تېر کال په یو اړخیز ډول ترې ووته.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو پر خپل ټویټر لیکلي: «د ایران له خوا د اټومي پروګرام تازه پراختیا به د نورې انزوا او سختو بندیزونو سبب شي».

پامپیو ویلي چې دولتونه باید خپل هغه اوږدمهالی معیار بېرته اعاده کړي، چې د ایران د اټومي پروګرام لپاره د یورانیمو غني کول منع کوي.

نوموړي ویلي: «که د ایران رژیم پر اټومي وسلو سمبال شي، نړۍ ته به نور هم لوی خطر پېښ کړي».

بلخوا د ایران یوه دولتي ویاند علي ربیعي په تهران کې خبریالانو ته ویلي چې هېواد یې د یورانیمو د غني کولو له هغه کچې اوښتی، چې په اټومي تړون کې ورته مشخص شوې و.

د ایران د بهرنیو چارو وزیر جواد ظریف هم په ټویټر لیکلي، د تهران دا پرېکړه چې د یورانیمو غني کول به زیاتوي، د هغه ځواب دی چې ده د امریکا «اقتصادي ترورېزم» بللی دی.

د نوموړي اشاره هغو بندیزونو ته وه چې واشنګټن له اټومي تړونه په یو اړخیز ډول تر وتلو وروسته بېرته پر ایران لګولي دي.

## په تاجکستان کې د غذایي مسمومیت له کبله ۱۴ بندیان مړه شوي دي



د تاجکستان په یوه زندان کې ١٤ بندیان د غذایي مسمومیت له کبله مړه شوي دي.

دغه بندیان په داسې حال کې مړه شوي چې د شمالي سیمې سُغد له یوه زندانه د دوشنبې نوراک او یووان زندانونو ته لېږدول کېدل.

د دغه هېواد د عدلیې وزارت په یوه اعلامیه کې ویلي: «د انتقال په وخت کې یوه بندي ۱۵ نورو بندیانو ته د ډوډۍ یوه یوه ټوټه ورکړه».

په اعلامیه کې راغلي، کله چې بندیان پلازمېنې دوشنبې ته ورسېدل، روغتیایي وضعیت یې خراب شو او روغتونونو ته د تداوۍ لپاره لېږدول شي. د چارواکو په خبره، ډاکتران توانېدلي چې د دوو مسموم شوو بندیانو ژوند وژغوري.

د دغه هېواد لویې څارنوالۍ د دې پېښې په اړه څېړنې پیل کړې او ویلي یې دي چې په دې تړاو به د خپلو څېړنو پایلې ډېر ژر له خلکو سره شریکې کړې.

په داسې حال کې چې په دې وروستیو کې د تاجکستان په زندانونو کې د بندیانو پر وړاندې تاوتریخوالی ډېر شوی، دا په دغه هېواد کې د دوو میاشتو په موده کې په ډله ییز ډول د بندیانو د مړینې دویمه پېښه ده.

تر دې وړاندې د مې په ۱۹مه د دوشنبې ښار د ختیځ په ۲۰ کیلومترۍ وحدت زندان کې د بلوا له کبله ۲۹ بندیان او درې ساتونکي مړه شوي وو.

## عبدالله: امیدوار هستیم نشست بین‌الافغانی به گفت‌وگوی مستقیم طالبان با دولت منجر شود



رئیس اجرایی حکومت وحدت ملی، با اظهار امیدواری از اینکه نشست قطر، زمینه ساز آغاز مذاکرات میان حکومت و طالبان باشد، گفته است که هدف از حملات اخیر طالبان، امتیازگیری در پروسه صلح است.

این در حالی است که یک منبع مؤثق که خواست نامش در خبر ذکر نشود، به پژواک گفته است که ممکن است در آینده نزدیک، مذاکرات مستقیم میان حکومت افغانستان و طالبان در یکی از کشورها صورت بگیرد.

عبدالله عبدالله رئیس اجرایی حکومت، که دیروز در نشست شورای وزیران در قصر سپیدار صحبت می کرد، از نشست بین الافغانی در قطر استقبال کرد و گفت، امید است که نشست متذکره منجر به آغاز مذاکرات رسمی میان حکومت افغانستان و گروه طالبان و تأمین صلح در کشور گردد.

وی با اظهار سپاس از تلاش‌های کشور آلمان و میزبانی قطر از این نشست، افزوده است: «بعضی نارضایتی‌ها از ترکیب هیئت وجود داشته؛ اما باید گفت که در همچو نشست‌ها مشکل است که در ترکیب قناعت همه را داشته باشیم، با آن هم کشور آلمان دعوتنامه‌هایی را که فرستاده بود، کوشش نهایی خود را کرده تا نمایندگی خوبی از مردم افغانستان صورت بگیرد».

این در حالی است که نشست دو روزه ای در مورد صلح افغانستان با وساطت قطر و آلمان، در شهر دوحه برگزار گردید، که در این نشست به شمول ۱۰ خانم، ٦۰ تن اعم از فعالان مدنی، سیاسیون، اراکین دولتی و طالبان شرکت کرده بودند.

در این نشست، ۱۷ نمایندۀ گروه طالبان و ۴۵ اشتراک کننده دیگر بشمول ده زن از افغان‌های داخل کشور و مقیم اروپا و امریکا بودند.

همچان عبدالله در واکنش به حملات اخیر گفته است که حملات اخیر طالبان، به هدف امتیازگیری در جریان مذاکرات صلح صورت گرفته است.

## ژوند

### لیمو د بدن د سستۍ مخه نیسي




لیمو چې د نړۍ په هره برخه کې ښه پرېمانه پیدا کېږي، د انسان د بدن لپاره ډېرې گټې لري.

د لیمو تر ټولو غوره ځانگړنه دا ده چې د انسان د وجود وینه زیاتوي او ورسره د وینې جریان هم چټکوي. پر دې سربېره، لیمو تنده کموي او د بدن مالگه هم پوره کوي. کله چې انسان د سستۍ او لټۍ احساس کوي، لیمو لټې او سستي ختموي. همدرانگه لیمو د انسان له پوستکي ځخه تور داغونه لرې کوي او د تبې اثرات هم له منځه وړي.

لیمو د مخ پوستکی او ویښتان تازه ساتي. لیمو که په خوراک کې د ښې مزې لپاره کارېږي، خو د ښکلا لپاره هم پوره گټور دی. لیمو د مخ تور داغونه او رېبې ختموي. که د مالوچو یو پشم د لیمو په اوبو سره ککړ کړئ او پر مخ یې هره ورځ یا یوه ورځ پس ومږئ، نو د مخ تور داغونه به مو له منځه لاړ شي.

که لیمو او شات سره گډ شي او پر پوستکي ومږل شي، نو وچ پوستکی نرم او تازه کوي. که لیمو د بادامو د تیلو سره گډ شي او نوکان پرې غوړ شي، شل ۲۰ دقیقې پرېښودل شي، نو د نوکانو رنگ او ډول تازه او ښکلی کیږي. که لیمو او بوره سره گډه شي او پر شونډو پورې شي، نو شونډې نرموي او سپوروالی یې ختموي.

### منفي گرایي د انسان د مرگ لامل کېدای شي



د څېړونکو لخوا نوې تره سره شوې څېړنه ښیي، چې منفي ذهنیت لرونکي خلک زیات احتمال دی چې د زړه له ناروغۍ ومري.

دا څېړنه چې په دریو کلونو کې په ۱۳ زرو کسانو تر سره شوې، پکې راغلي ((هغوی چې پیاله نیمه تشه گوري)) نسبت هغوی ته چې ((پیاله نیمه ډکه گوري))، دوه چنده زیات امکان لري، چې د زړه پر ناروغۍ اخته شي او له همدې ناروغۍ ومري.

ډاکتران وایي، پیسیمیزم یا منفي گرایي، په ښځو او نارینه دواړو کې له زړه سره تړلې ناروغۍ پیدا کوي چې ممکن د انسان د مرگ لامل هم شي.

څېړونکو په دې تړاو څه نه دي ویلي، چې اپټیمیزم یا مثبت گرایي څه اغېز لري. دوی وایي چې د مطالعې دا برخه یې لا پوره شوې نه ده؛ خو څه ډول چې په مثبت گرایۍ کې هیله موجوده وي، نو معلومه خبره ده چې کله هیله موجوده وي، نو هغه ده چې ژوند ته د انسان تمه پیدا کېږي. هغه کسان چې په ورځني ډول په خپل ذهن کې افکار زیږوي، په خپله یو ډول ځان ته ژوند سختوي. خو مثبت گرا خلک چې کله له ستونزو سره هم مخ کېږي، هڅه کوي چې ستونزې په خپله گټه تمامې کړي.